مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۴/۱۶

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## ۳۴مه‌برخه

### لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

### ۳۷۲مه برخه

کومې لنډۍ چې د «سروکي یا نیمکۍ» په ملتیا سره زما له نظره تېرې شوې دي او ما ثبت کړې دي، دا یې دویمه برخه ده، تر دې وروسته هم که ما دې ته ورته د «سروکي یا نیمکۍ» نورې بېلګې ولیدلې راخوندي به یې کړم:

**۹:**

یاره پېټ دې خبرومه
مه‌کوه جرګې راباندې
له ما نه واوړه

وښکه د ځان وینې مې وښکه
د یار نظره چې دې تنده ماته‌شینه
له ما نه واوړه
یاره پېټ دې خبرومه
مه‌کوه جرګې راباندې
له ما نه واوړه

خالونه واړه دي خالونه
د زنې‌خاله نوکري به دې کومه
له ما نه واوړه
یاره پېټ دې خبرومه
مه‌کوه جرګې راباندې
له ما نه واوړه

یاري د جګ سړي په‌کار ده



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځان ته به ګوري، ستا به ډېر مدارکوينه
له ما نه واوړه
یاره پټ دي خبرومه
مه‌کوه جرګې راباندې
له ما نه واوړه

دا ښکلي، ښکلي به ترې بوزم
بد رنګ به پرېږدم، سوزکی کې به راځینه
له ما نه واوړه
یاره پټ دي خبرومه
مه‌کوه جرګې راباندې
له ما نه واوړه

جانانه بر پټي ته راسه
په مړو ګرځم، وړکی راټولومه
له ما نه واوړه
یاره پټ دي خبرومه
مه‌کوه جرګې راباندې
له ما نه واوړه

د هلکانو په یاری کې
پر عاشقانو د بوغمي راځي دردونه
له ما نه واوړه
یاره پټ دي خبرومه
مه‌کوه جرګې راباندې
له ما نه واوړه

دا «سروکی» او دا لنډۍ مې له داسې یوې ویډیو نه راخپلې کړې دي چې په یوه‌لویه ګوټه کې لکه د دېرې مجلس ګڼ‌شمېر خلک ناست دي، مسته موسیقي غړول کېږي او ځو تنه په وار سره لومړی «سروکی» وايي بیا لنډۍ وراچوي او تر هرې لنډۍ وروسته سر بیا تکرارېږي په دې توپیر چې تر لنډۍ وروسته د سروکی وروستۍ برخه (له ما نه واوړه) وايي او بیا بشپړ «سر» په تکرار سره وايي. سندرغاړي مې ونه‌پېژندل، ویډیو ینځه‌دقیقې او شل ثانیې اوږده ده. پر سکرین باندې د معلوماتو له مخې ویډیو د ۲۰۲۳ ام کال د اکتوبر په ۲۸مه ثبت شوې ده، دا لاندې یې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/1205110267774865

**۱۰:**
کابله یخ یې، ډېر مې خوښ یې
که د زړه غوښې را نه غواړې، دربې‌کمه
وه سپینې‌کوترې،
څوک دي لیوني کړل، څوک دي وویستي له کاره
وه سپینې‌کوترې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د ښاغلي لال‌شیر صافي له یوې لنډۍ ویدیو نه مې ایله یو «سروکی» او یوه لنډۍ راخوندي کړل، ویدیو ټوله څلورڅلوېښت‌ثانیې ده، دا لاندې یې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/820384527700442

**۱۱:**
**داسي ورو، ورو**
**ځم درسره ودلبرۍ**
**د زړه د رازه**
**بیا دې وروسته خبرومه**
**داسي ورو، ورو**
**ځم درسره ودلبرۍ**
**د زړه د رازه**

دا چې زه ګردچاپېره‌ګرځم
ما ته مې یار په سپینه‌خوله خندلي دینه
**ځم درسره ودلبرۍ**
**د زړه د رازه**

دې امیرخان لالا ته وایه
الله‌نظر باندې مي وایه سلامونه
**ځم درسره ودلبرۍ**
**د زړه د رازه**

کابل ته ما درسره بوزه
ته به مڼې خورې، زه بې لښتي ماتومه
**ځم درسره ودلبرۍ**
**د زړه د رازه**

لستوڼي وباسئ، تاوېږئ
د چارباغیانو ښادي کله، کله‌وینه
**داسي ورو، ورو**
**ځم درسره ودلبرۍ**
**د زړه د رازه**
**بیا دې وروسته خبرومه**
**داسي ورو، ورو**
**ځم درسره ودلبرۍ**
**د زړه د رازه**

تردېر انتظار وروسته د بریالي صمدي داسې یوه ویدیو په مخه راغله چې د چا د خوښۍ په محفل کې له منظمو سازیانو سره ناست او سندرې وایي. یو بیخي نوی «سروکی» یې وایه او لنډۍ یې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وراچولي، ما ایله څلور لنډۍ ورنه راخوندي کړي. ویدیو یې پنځه‌دقیقي او دريڅلويښت ثانيي ده، دا لاندې يې لینک دی:
https://www.facebook.com/reel/906046368448826

**:۱۲**

زړګی مې ژاړي
تا یادومه
زړګی مې ژاړي

ستا د راتلو لار مې څارله
د مرګ په حال دې یاره څه خبره ومه
زړګی مې ژاړي
تا یادومه
زړګی مې ژاړي

د تورلحد میلمه جانانه
جانانه ستا تصویر ته اوښکې تویومه
زړګی مې ژاړي
تا یادومه
زړګی مې ژاړي

دا پاسنی «سروکی» او دوې لنډۍ مې له داسې یوې ویدیو نه راولیکلې چې په سکرین کې یوځوان بوټې وهي او په غږ کې یوه‌مېرمن د چمبې ملتیا په خواشینی سره دا سروکی او لنډۍ زمزمه کوي. ویدیو یوه‌دقیقه او څلورثانيي ده، دا لاندې يې لینک دی:
https://www.facebook.com/reel/1398123935437275

**:۱۳**

په لنګرځای خوږې مسرې دی
ټکوروم به پرې د زړه زاړه‌زخمونه

له یوې ویدیو نه مې دا یوه لنډۍ هم راکاپي کړه. یوخو مې لنډۍ راخپله کړه، بل ورسره تکرارېدونکی «سروکی» زما له‌پاره هم نوی و او هم ډېرخوندور. پاس مې لومړی لنډۍ ولیکله او دا لاندې مې څنګه چې سندرغاړي لنډۍ او سروکی ویلي وو، هماغسې مې خوندي کړل:

په لنګرځای خوږې مسرې دی
خانمجاني جنۍ
ما له ګل د منو راوړه
راته ګراني جنۍ
ما له ګل د منو راوړه
ټکوروم به پرې د زړه زاړه‌زخمونه
خانمجاني جنۍ
ما له ګل د منو راوړه
راته ګراني جنۍ
ما له ګل د منو راوړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

ويډيو نونس‌ثانيې ده او دا لاندې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/1454445876060930

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ